# تازه معلومات
# افغانستان: له لیږد څخه تر بدلونه

د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۲۹

د ښار او همغږۍ د ګډې ډلې ناسته

نړیوال بانک

# لنډيز

- پرمختګ او ننګونې
- د توکيو کنفرانس او د لېږد (انتقال) د راپور کليدي پيغامونه
- په وروستيو کې د اقتصادي وضعيت او مالي چارو پرمختګونه
- د ۲۰۱۴ کال لرليد ــ اصلاحاتي اجندا:
  - د مالي نظام د ثبات ډاډ
  - د ودې محرکين او امکانات
  - بشري ځواک او ورتياوې
  - د ادارو او حکومتولۍ پياوړي کول

پرمختګ

# وروستۍ لسیزه:
# پام وړ اقتصادي او اجتماعي فعالیتونه

- اقتصادي وده:
  – د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۲ کلنو ترمنځ د اقتصادي ودې منځنۍ کچه ۹,۴ سلنه وه.
  – د کس په سر ناخالص عاید په ۲۰۰۲ کال کې له ۱۸۶ ډالرو په ۲۰۱۲ کال کی ۶۸۸ ډالرو ته لوړ شوی.
  – د دولت داخلي عواید په ۲۰۰۲ کال کې د ټولو ناخالصو تولیداتو ۳ سلنه وو چې دا په ۲۰۱۱ کی د ټولو ناخالصو تولیداتو ۱۱ سلنې ته لوړ شوي.
  – د عامه مالي چارو د مدیریت ښه والي د ملي بودجې له لارې لګښتونه له ۳۴۶ ډالرو (په ۲۰۰۲ کال کې) ۴,۹ میلیارده ډالرو (په ۲۰۱۱ کال کی) ته لوړ کړي.




- ټولنیز پرمختګونه
  – په ښوونځیو کې د شمولیت کچه په ۲۰۰۱ کال کې له یو میلیون کوچنیانو (چې ډېر کم شمېر یې نجونې وې) په ۲۰۱۲ کال کې ۹,۲ (چې یکې ۳,۶ نجونې دي) ته لوړه شوې.
  – د څښلو پاکو اوبو ته د هېواد د وګړو د لاسرسي کچه له ۲۲ سلنې ۵۰ سلنې ته لوړه شوې.
  – د منځني عمر کچه ۶۴ کلنۍ ته لوړه شوې.
  – د زېږون پر مهال د میندو د مړینې منځنۍ کچه تر نیمايي راکمه شوې.

# افغانستان په فقر کمولو، دندو رامنځته کولو او خدماتو وړاندې کولو کې له خورا سختو ننګونو سره مخ دی.

- په دې هېواد کې د کس په سر عاید د سیمې هېوادونو په پرتله په ترټولو ټیټه کچه کې ځای لري او د نړۍ د ۲۰ تر ټولو بېوزلو هېوادو په کتار کې راځي.
- افغانستان په پراخه کچه پر بهرنیو مرستو متکي دی او دې مرستو په ۲۰۱۲ کال کې د ټولو ناخالصو عوایدو ۴۷ سلنه جوړوله.
- د دندو رامنځته کول ډېر ننګونکي دي؛ هر کال ۴۰۰۰۰۰ تنه تازه د کار بازار ته ورننوزي.
- د فقر کچه لا تر اوسه لوړه ده او د ټول نفوس ۳۶ سلنه د بېوزلۍ ژوند تېروي چې د دوی ۵۰ سلنه زیان منونکي (آسیب پذیر) په ګوته شوي.
- د کوچنیانو مړینه د نړۍ هېوادنو په پرتله په لوړه کچه کې ده او یوازې ۲۵ افغانان لوستي دي.
- د امنیت او ثبات په اړه بې باوري هم په لوړه سطحه کې ده چې پراختیایي لرلید اغېزمنوي.

| شاخص (۲۰۱۱) | افغانستان | جنوبي اسیا | کم او منځنی عاید لرونکي هېوادونه |
|---|---|---|---|
| د کس سر عاید (په ډالرو) | ۶۲۰ | ۱۴۱۰ | ۱۸۹۱ |
| عواید ( د کورني ناخالص تولید سلنه) | ۱۱,۳ | ۱۱,۹ | ۱۵,۵ |
| متوقع ژوند | ۶۴ | ۶۶,۴ | ۶۶ |
| د کوچنیانو مړینه (په هرو ۱۰۰۰ زیږوونو کې) | ۷۲,۷ | ۴۸,۳ | ۴۶,۸ |
| د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ( د وګړو سلنه) | ۶۰,۶ | ۹۰,۲ | ۸۷,۴ |
| په لومړني ښوونځي کې شمولیت ( اساسي سلنه) | ۹۸,۲ | ۱۱۰ | ۱۰۵,۵ |
| په منځني ښوونځي کې شمولیت ( اساسي سلنه) | ۴۸,۶ | ۵۸,۷ | ۶۱,۴ |

# د توکيو کنفرانس مهم ټکي او د ”افغانستان د لیږد په بهير کې“ تر سرليک لاندې د نړیوال بانک راپور

- پدې شرط چې امنيتي وضعيت او ثبات ښه وي، اقتصادي وده د ۱۸-۲۰۱۲ کلونو تر منځ ۵ سلنه اټکل شوې.
- په کلیدی سکتورونو کی د اصلاحاتو د پالیسۍ پلي کېدا به اقتصادي وده له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۸ کلنو پورې په سلو کې ۷ لوړه کړي.
- د افغانستان د پراختيايي او امنيتي لګښوتونو تمويل پر وړیا مرستو او د کورنيو عوايدو راټولو پر ښه والي تکيه دی.
- د نړیوالي ټولني په مرستو کې هر ډول کموالی چې تر پلان شوې کچې کم وي په بېوزلۍ کمولو، دندو رامنځته کولو او خدماتو برابرولو کې د پرمختګونو د سستۍ لامل ګرځي.

# د ۲۰۱۲ کال په پام وړ ودې پسې، د بې ثباتۍ زیاتوالي او کمو کرنیزو محصولاتو دا وده په ۲۰۱۳ کال کې ټکنۍ کړه.

- په کال ۲۰۱۲ کی د کرنیزو محصولاتو زیاتوالي او د خدماتو چټکې ودې اقتصادي وده ۱۴,۴ سلنه لوړه کړه.
- په کال ۲۰۱۳ کی اقتصادي وده په پام وړ ډول ۳,۱ سلنه راښکته شوه.
- د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۷ میاشتو کی د نویو ثبت شویو شرکتونو شمېر ۴۳ سلنه راکم شو.
- په کال ۲۰۱۳ کی د نشه یي توکو تولید ۴۹ سلنه لوړ شو (۵۵۰۰ ټنه) چې په کرونده کې یې ارزښت د ناخالصو کورنیو عوایدو له ۴,۶ سلنه سره برابر و.




- وړاندوینې ښیي چې اقتصادي وده به په ۲۰۱۴ کال کې هم ښکته وي (د ۳,۵ سلنې په شاوخوا کې) چې کېدای شي دا اندازه د بې ثباتۍ له امله نوره هم ښکته ولاړه شي او د اقتصادي خوړ لامل شي.

# کرنه او خدمات د اقتصادي فعالیتونو د عواملو په بنه باقي پاتې کيږي




کورنۍ ناخالص تولید
په ۲۰۰۷ کال کې
۹,۸ ملیارده ډالر

کورنۍ ناخالص تولید
په ۲۰۱۲ کال کې
۲۰,۵ ملیارده ډالر

# په تېره يوه لسيزه کې د مالي چارو تر بنې پرمخبيونې وروسته، په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې د عوايدو راټولونې کچه راټيته شوې

- په کال ۲۰۱۳ کې کورني عوايد ۱۰۹ ميلیارده افغانۍ وو چې د کورني ناخالص توليد له ۹،۶ سلنې سره برابر وو. دا پداسي حال کې ده چې په ۲۰۱۲ کال کې کورني عوايد د ناخالص کورني توليد ۱۰،۳ سلنه (۱۰۹ ميلياره افغانۍ) وو او په ۲۰۱۱ کال د کورني ناخالص توليد ۱۱ سلنه وو.
- د ناخالص توليد د فيصدۍ په بنه د عوايدو دا ډول راټيټېدل د اقتصادي فعاليتونو د سستېدو او د قانون په پلي کېدو کې د کمزورۍ په مانا دي.
- د عوايدو راټولونې د ښه کولو په موخه د ماليې وزارت ځينې هڅې پيل کړي، خو دې کار ډېر لږې اغېزې لرلې: د عوايدو د ګړندي کمښت مخه نيول شوې، خو په نزولي سير کې يې کوم بدلون نه دی راغلی.
- دا چې بې ثباتي او سستې اقتصادي ودې د عوايدو پر راټولولو اغيز ښندلی نو ځکه د ۲۰۱۴ کال عوايد د کورني ناخالص توليد ۱۰ سلنه اټکل شوې.






# د دولتي بودجې له ۵۰ سلنې زیاته برخه له بهرنیو مرستو تمویلیږي... او د عادي لګښتونو ډېره برخه د ملي بودجې له لارې ورکول کیږي.

- په ۲۰۱۳ کال کې د بودجې ټول لګښتونه ۵,۴ ملیارده ډالره (یا د کورني ناخالص تولید ۲۶ سلنه) وو، چې دوه ملیارده یې له داخلي عوایدو او پاتې برخه یې د وړیا مرستو له لوري تمویلېدل.
- له ملي بودجې د باندې لګښتونه په بشپړ ډول پر وړیا مرستو تکیه دي چې د کورني ناخالص تولید له ۳۰-۲۵ سلنه اټکل شوي.
- عادي لګښتونه چې په ۲۰۰۶ کال کې د کورني ناخالص تولید ۱۲٪ وو، په ۲۰۱۳ کال کې د ناخالص کورنی تولید ۱۹٪ ته لوړ شول، پداسی حال کې چې پراختیایی لګښتونه په ۲۰۰۶ کال کې د ناخالص کورني تولید له ۹٪ څخه په ۲۰۱۳ کال کې ۷ سلنه ته راټیټ شوي.



# تر ۲۰۱۴ کال وروسته:
# د فقر راکمولو او پراختیا پالیسي ګانې

په منځني مهال کې د اصلاحاتي پالیسیو موخو لاسته راوړنې لپاره باید په لاندې ځلورو برخو کې اقدامات ترسره شي:

i. د عوایدو په راټولولو کې ثبات رامنځته کول، د وړیا مرستو لاسته راوړل او د غیر پوځي برخو په لګښتونو کې سپما.

ii. د خصوصي سکتور په مشرۍ د اقتصادي ودې ملاتړ چې له کرنیزو، خدماتي او طبیعي سرچینو سکتورونو له امکاناتو او سیمییزې همکارۍ په ګټه اخیستلو کاري زمینې رامنځته شي.

iii. د اداراتو او دولت تقویې ته ادامه ورکول

# د مالي چارو ثبات د کورنيو عوايدو راټولونې او د وړيا مرستو د لاسته راوړنې ډاډ ته اړتيا لري.

- د کورنيو عوايدو راټولولو کچه لوړول چې تر کال ۲۰۱۸ پورې د کورنې ناخالص توليد ۱۴٪ ته ورسيږو، د قانون او د راټولونې پروسې پلي کولو (د ارزښت لوړېدو پر سر ماليه) او د کانونو د مقرراتي چوکاټ بشپړلو ته اړتيا لري.

- تر ۲۰۱۸ کال پورې په بودجه کې داخل او خارج لګښتونه د کورني ناخالص توليد ۴۱٪ اټکل شوي ( چې ۳۸ سلنه يې کورني عوايد برابروي.) په همدې دليل په ۲۰۱۸ کال د بودجې کسر د کورنې ناخالص توليد ۲۵٪ (يا ۷ ميلياده ډالر) تخمين شوی.
- تمه ده چې افغانستان به په راتلونکيو کلونو کې وړيا مرستو ته څرګنده اړتيا ولري چې دا رقم په ۲۰۲۵ کال کې د کورني ناخالص توليد ۲۰ سلنه اټکل شوی.



# دا چې د بودجې له لارې امنیتي لګښتونه په ډېرېدو دي، په راتلونکي کې د عادي او پراختیایي لګښتونو ډاډمنول اړین دي.

- د بودجې له لارې د امنیتي لګښتونه په ۲۰۰۷ کال کې له ۵۰۰ میلیونو ډالرو په ۲۰۱۳ کال کې ۲,۴ میلیارده ډالرو ته لوړ شوي.
- د بودجې له لارې ملکي لګښتونه په ځانګړي ډول زېربنا، کرنه او کلیوالي پراختیا د کورني ناخالص تولید په اساس کم شوي، په داسې حال کې چې د پوهنې، روغتیا او ټولنیز خوندیتوب په برخه کې په خپل حال پاتې دي.
- دا چې امنیتي لګښتونه ښایي په راتلونکي کې لوړ او تمویل یې ټکني شي، د ملکي لګښتونو لپاره د سرچینو برابرول د اقتصادي ودې او د خدماتو وړاندې کولو لپاره اړین ګڼل کېږي.



# تر لیږد وروسته د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو رامنځته کولو ملاتړ ملاتړ: عمده محرکین: کرنه، د استخراجي صنایع او خدمات

- په ۲۰۱۵-۱۸ کلونو کې اوسطه کلنۍ اقتصادي وده ۵ سلنه تخمین شوې چې د ۲۰۰۳-۲۰۱۳ کلونو د ودې، چې په کال کې ۹,۴ وه، په پرتله ښکته ده.
- تمه ده چې کرنه، کانونه او خدمات د ودې اساسي عوامل شي.
- د کرنیزو محصولاتو د هڅونې او د کانو سکتور د پراختیا په موخه د اصلاحاتو تصبیق په ۲۰۱۵-۲۰۲۵ کلونو کې اقتصادي وده کېدای شي په کال کې ۶,۷ ته لوړه کړي.

تمه ده چې د کرنې او خدماتو سکتورونه دندې رامنځته کړي.
د کانونو په سکتور کې کاري زمینې کېدای شي دومره د پام وړ نه وي.

له سیمییزې همکارۍ استفاده، او ښارجوړونه کېدای شي دندې رامنځته کړي او د اقتصادي ودې لامل شي.



# د اقتصادي ودې چټکولو او دندو رامنځته کولو په موخه اصلاحات:
# زیربنا، ځمکې او مالي سرچینو ته لاسرسی، د پانګونې چاپیریال او شرایط

- د زیربنا ښه کول، بشري ځواک، ځمکې او مالي سرچینو ته لاسرسی او د پانګونې چاپیریال او شرایط په ټولو برخو کې د اقتصادي ودې لامل ګرځي.
- د کرنیزو محصولاتو وده په اوبو لګونې، ترویجي خدماتو او هغو فرصتونو پانګونې ته اړتیا لري چې د ارزښت لوړېدونکو محصولاتو د تولید وړتیا ترلاسه شي.
- له استخراجي سرچینو ګټه پورته کول په یوه مناسب مقرراتی چوکاټ جوړولو او پلي کولو، او د مالي سرچینو او اړتیا وړ زیربناو په برابرولو پورې تړلې.



# د لیک لوست د کچې لوړول، د اقتصادي ودې لپاره وړتیاوې او د دندو رامنځته کول په لنډ مهال کې اړین دي.

- د بشري ځواک او وړتیاو وده په لاندې ټکو پورې تړلې:
- د لومړنیو، تخنیکي او مسلکي، او لوړو زده کړو جاري ساتل او متوازنه او عادلانه پراختیا
  - د باکیفیته لومړنیو او منځنیو زده کړو وړاندې کولو په موخه د اړوندو سیستمونو پیاوړي کول.
  - د مسلکي او تخنیکي تعلیماتو د کورسونو او د بازار د اړتیاوو ترمنځ مستقیمه اړیکه رامنځته کول.
- لومړنیو، تخنیکي او مسلکي، او لوړو زده کړو ته د ښځو د لاسرسي په برخه کې هڅې پیاوړې کول، په ځانګړي ډول د کار په بازار کې د ښځو ونډې ته جدي پاملرنه کول.
- د روغتیا په برخه کې لاسته راوړنې د تغذیې او واکسیناسیون پروګرامونو په پراختیا، د عامې روغتیا وزارت د سیستمو په تقویې، او په هغو روغتونونو چې ښه پاملرنه ورته نه کېږي د خدماتو په ښه والي پورې تړاو لري.

**د عمر، استوګنځي او جنسیت پر بنسټ د سواد کچه (سلنه)**






# د حکومتولۍ ښه والی په افغانستان د نظام د ثبات تر ټولو مهم اړخ دی.

- د حکومتولۍ، په ځانګړي ډول د فساد پر وړاندې مبارزې او د قانون او مقرراتو په پلي کېدو کې، د پام وړ پرمختګ نه لیدل کیږي، آن تر دې چې افغانستان په وروستیو دوه کلونو کې د شفافیت د نړیوال سازمان د فساد په لیکلړ (فهرست) کې تر ټولو ښکته ځای لري.

- د حکومتولۍ او حساب ورکونې د برخو ښه والی د خدماتو رسولو، پانګونې هڅولو، او د کاري فرصتونو رامنځته کولو د ملاتړ او اقتصادي ودې پیاوړي کولو لپاره تر ټولو مهمې هڅې شمېرل کیږي.

- د حکومتولۍ د چاپېریال او شرایطو ښه کول په لاندې ساحو کې پاملرنه غواړي:
  - د لا ښې ولایتي بودجې جوړونې له لارې د کلیو په کچه د خدماتو رسولو ښه والی، د ساتنې او پاملرنې ښه مدیریت او د ورتیاو لوړول.
  - د اداري اصلاحاتو په برخه کې د ظرفیت او ملکي ادارو موثریت لوړول د حکومتولۍ د چاپېریال او شرایطو ښه کولو تر ټولو مهم اړخ دی.
  - د مالي چارو د پیاوړي کولو په موخه، پداسې حال کې چې د بودجې د شفافیت او د خزاینو د مالي مدیریت په برخو کې ډېر پرمختګ شوی، د تدارکاتو په غیر مرکزي کولو، پراختیایي بودجې لګولو او بهرنۍ پلټنې په برخو کې لا ډېر پرمختګ ته اړتیا ده.

# نتیجه ګیري

- د امنیتي او سیاسي راتلونکي په اړه اندېښنې د **انتقال پروسې** د تاثیراتو پر دوام مستقیم اغېز لري.
- د اقتصادي ودې لوړوالی د کرنې، کانو او خدماتو سکتورونو په پراختیا پورې تړلی چې له امنیت او ثبات سره نږدې اړیکه لري.
- که چېرې ځانګړي اصلاحات، لکه د کانونو قانون، په راتلونکو څو میاشتو کې پلی نشي، راتلونکی حکومت به له سترو ننګونو سره مخ شي.
- په وروستیو کې د عوایدو په راټولو کې سستي پدې مانا ده چې راتلونکی حکومت باید لازم اقدامات وکړي چې عواید په ۲۰۱۸-۲۰۱۵ کلونو کې هر کال د کورني ناخالص تولید د یوې سلنې په اندازه نور هم لوړ کړي.
- د اصلاحاتو په پلي کېدلو کې پرمختګ، د امنیت او ثبات ښه کېدل او د اړتیا وړ ورېا مرستو برابرولو په برخه کې د نړیوالې ټولنې د ژمنو جاري پاتېدل به له افغان دولت سره مرسته وکړي چې د بېوزلی راکمولو، کاري فرصتونو رامنځته کولو او خدماتو په سکتور کې شته ننګونې له کابو کړي.